مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۵/۱۲/۱۲

# د لنډيو اصلي منابع خلک دي

## ۲۶مه‌برخه

## لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۵۴مه برخه

د نويو لنډيو راخوندي کولو په لړ کې مې ګڼشمېر نورې ويديوګانې هم له نظره تېرېکړې. په دې ويديوګانو کې هم سندرغاړو لنډۍ زمزمه کړې دي، ځينې لنډۍ يې تکراري وې، د ځينو په تلفظ باندې پوه نه‌شوم، ځکه مې راخونديکولو ته زړه ښه نه‌کړ او هغه شمېرلنډۍ چې نوې وې، را خوندي مې کړې. دلته يې د معلوماتو په ملتيا له تاسو درنو لوستونکو سره شريکوم:

**ډېر مې يادېږي کابلجانه**
**په زړه مې ګرځي ستا د جګوغروسرونه**

**پردي وطن کې عزت نه‌شته**
**عزت د هرسړي په خپل کلي کې وينه**

**وطن په خلکو ښايسته وي**
**چې خلک نه‌وي، کنډوالې ښکارې کورونه**

**د ملالو پېغلو وطنه**
**ستا دوښمنان به ارمانجن قبر ته ځينه**

**ځنګه په سرولمبو کې وسوې**
**د پيسو وږو دې نن خرڅکړل تاريخونه**

**د ننګياليو پاکېخاورې**
**بې‌ننګان تښتي، کډې‌بار ولاړېدينه**

**د احمدشاه غازي وطنه**
**ستا دوښمنان به د تاريخ کندو ته ځينه**

**مرګی دې راشي، ما دې واخلي**
**خدای مې دې ستا د در احتياج نه وساتينه**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

**د خدای‌لعنت دې پر هغو شي**
**چې په پيسو يې ننګ ناموس خرڅ کړی‌وينه**

**راځئ شخصي‌دوښمني پرېږدو**
**پښتنو ورکړئ د وروری سره لاسونه**

پاسنی لنډۍ مې «د پښتانه شمله» نومي پيج کې له يوې خپرې شوې ويډيو نه را اخيستي دي، خو سندرغاړی يې ما ونه‌پېژانده، دا لاندې يې لينک دی:

https://www.facebook.com/reel/1584901305981427

**د ښايستو سترګو خاونده**
**سلام‌کوه، سلام به زه درته‌کومه**

**د سترګو غشي دې تېره دي**
**ښايسته‌جانانه پرې‌کوې د زړه رګونه**

**د شنه اسمان ستورې ګواه دي**
**ما د جانان له غمه ډېرژړلي‌دينه**

**جانانه ستا قسم يې راکړئ**
**رقيب ويل چې يار دې څه‌ويلي‌دينه**

**ته که هوښيار يې، که ناپوه يې**
**بلا دې واخلم تر هرڅا دې ګرانومه**

**ما د غوړانو ياري کړې**
**اوس د بدرنګو ياري خوند نه‌راکوينه**

دا لنډۍ مې هم له داسې يوې ويډيو نه راخوندي کړې چې څلوردقيقې وه او سندغاړی مې يې ونه‌پېژاند، دا لاندې يې لينک دی:

https://www.facebook.com/reel/1780119582660008

**خالونه درې پر زنه کښېږده**
**ستا به ښکلا شي، زما به مينه ماته‌شينه**

**د مېن زړه دومره نازک دی**
**توله خپګان يې پر زړګي راوړي ګردونه**

**په دا دوه‌درو ورځو کې ياره**
**رخصت به اخلمه، ډېدن لره درځمه**

**جانانه سترګې دې کوربان سم**
**سترګې دې ډېرې محبت نه ډکې‌دينه**

**جانان په مينه کې ناکام سو**
**له ډېره شرمه خوله پرما راغورځوينه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ځلوردقیقي او اته ثانیو ویډیو نه مې ایله پنځه لنډۍ راخوندي کړې، سندرغاړی مې ونه‌پېژاند. دا لاندې د یادې ویډیو لینک دی:

https://www.facebook.com/reel/1367381041396377

**پاس پر سینه راته ځای‌جوړ که**
**ما لیوني ته بل‌ځای خوب کله‌راځینه**

**په شنه‌زړوکي دې مین‌شوم**
**که د سینې په منځ دې ځای‌راکې‌مینه**

**د لونګین مېرمن ته وایه**
**زما به شپه بېګاه ته ستا کلي کې وینه**

**بیلتون په هرڅا میلمه کېږي**
**ما ته چې راشي د کال ډه‌ډه واچوینه**

**په مخه مه‌راځه شرمېږم**
**اول د تا وم، اوس مې بل درګاه ته وړینه**

**مځکې ته ټیټ‌شه، خاورې ڇېکه**
**لایق دې نه‌یم، پاک‌الله درکړې‌یمه**

**په هغه شپه به زلزله‌وي**
**چې بوډا تاوکړي د وړې‌جلی لاسونه**

دا اوه لنډۍ مې له داسې ویډیو نه راځوښې کړې دي چې اته‌دقیقي او نونس‌ثانیې ده، په ځینو برخو کې غږ بندېږي، ځکه پرې پوه نه‌شوم. د سکرین پر مخ د استاد منور او سیدمحمد نومونه لیکلي دي، خو غږ ترپایه د یوتن ده او د استاد منور غږ په کې نه‌شته. دا یې لینک دی:

https://www.facebook.com/reel/1256990296430430

**نوره مې هېڅ‌بیماري نه‌سته**
**د لیلا توروسترګو نیمځوړلی یمه**

**جانانه راشه رب د پاره**
**د خپل بیمار مجنون دې واوره فریادونه**

**لالیه څومره پرماګران یې**
**زما ایمان یې عبادت به دې کومه**

**لیونی ستا په انتظار کې**
**په لار کې ناستیمه، د غم ژړاکومه**

**جانانه ته چې چېرته اوسې**
**پر هغه ځای دې بې‌اوبو وشي ګلونه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځېر و لولئ

دا ویدیو چې درېدقیقې او اتهویشت ثانیې ده، یو نارینه او یوه مېرمن په نوبت سره لنډۍ زمزمه کوي. ما دا پاسنۍ لنډۍ ورنه راخوندي کړې. دا د یادې سندرې لینک دی:

https://www.facebook.com/reel/900917134783356

بیا هم عبدالله مقرې:
د هغو سندغاړو په ډله کې چې لنډۍ یې د موسیقۍ په څېر کې زمزمه کړې دي، ترټولو فعال او د ټولنې، خلکو او وطن په غملړلی سندرغاړی همدا عبدالله مقرې دی چې د ټولنې نیمګړتیاوې په نښه کوي، د ظالمانو له ظلمونو نه پرده پورته کوي او ستونزو ته حللارې لټوي، دا لاندې لنډۍ یې د همدې مدعا نورې بېلګې دي:

https://www.facebook.com/reel/858874663296592

**نه د وطن، نه ایمان غمخوري**
**هرسړی زوروهي، پیسې پیداکوینه**

**چوپهخوله مهکینه، بیدارشه**
**هروطن جارشه، چې یادګار دې پاتېشینه**

**مرګی خو حق، اخر به مرشې**
**خو داشې کړشه، چې ژوندي دې یادوینه**

**په هرمجلس کې به یادېږې**
**لکه رحمن چې ملایان تل یادوینه**

**یا ملنګجان شه، یا خوشحال شه**
**چې پښتانه دې په نامه فخرکوینه**

**که میلیونر د زمانې شې**
**هرڅه به پاتې شې، ترېوړې به تښلاسونه**

**راځه وطن ته خدمتوکړه**
**چې پښتانه دې په مسرو کې یادوینه**

**له مجبورۍ مې وطن پرېښود**
**لکه کوچې هرهمیاشت مېنه بدلومه**

**ته د وطن یخېاوبه څښې**
**ما نه پنجاب ګرمي پوټکي بېلوینه**

**هغو چې سر په وطن ورکړو**
**نن یې بچیان کوڅو کې خیرټولوینه**

**ډېر دې مجبور کړمه قسمته**
**هلته دې راوستم، چې نه ورته راتلمه**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

**ترڅو به دا دغم ـچګړې وي**
**څو به په موږه خارجيان لوبې کوينه**

**يوخوا له غره مرمۍ راوري**
**بلخوا بچيان د کابل، خيرټولوينه**

**تل بې په کورميلمان ناست وو**
**نن هغه خلک خپله خيرټولوينه**

**داسې بې‌رحمه زمانه شوه**
**يوورته ژاړي، بل يې کور تالا کوينه**

**پنځه‌وشپږکورونه پرېږده**
**داسې زوی‌مړي شته، ښارونه لوټوينه**

**سهار بې نفل وظيفه کړو**
**د ماښامي بې لوټول پردي کورونه**

**داسې يې زموږ برستې يوړې**
**لکه چې موږ يې د بابا قرضداره وونه**

**پخوا به غلو په شپه کې غلاکړه**
**اوس په رڼاورځ لوټوي د بل مالونه**

**او پردي سل‌کوره يې ورانکړل**
**ځانتې بلډنګ جوړ کړ، اوس ژوند په‌کې کوينه**

**قلم مې بيا ګوتو کې واخيست**
**زړه او ماغزه مې بيا په جوش‌راغلي‌دينه**

**که له نږدې مې ليدای نه‌شې**
**له لرې، لرې خو راليږه سلامونه**

**له هوښيارانو خلک ګيلې‌کړې**
**له لېونيانو خلک لاري چپوينه**

**تله راواخله بيا مې تول کړه**
**که تريخوا نه يوخورد سپم وم، بيا منمه**

**تربورګلوي راسره مه‌کړه**
**پردی‌وطن دی اشنا ډېر پرېښانه يمه**

**له مسافرو سره ښه کړه**
**د مسافرو ښېرې کلي ورانوينه**

**هر وخت مې مه‌تلئ ملګرو**
**د قصابانو منځ کې ګير، شپې‌تېرومه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

**خدای مهربان باران به وسي**
**بیا به په وچوویالو شنې اوبه راځینه**

**کړېوعدي دې راله یادشي**
**لکه مسرو کې چې ګیلې درته کومه**

**پر زړه به لو ډبره کېږدم**
**سوالګر خو نهیم چې زاری درته کومه**

**ما ویل ترمرګه به یاري وي**
**ته د نیمه لارې ملګری وې ظالمه**

**نوي یاران دې پیدا کړي**
**ځکه له موږ زړو دې واخیستل لاسونه**

په پاسنیو لنډیو کې د ټولنې عیني ستونز انځور کړای شوې دي، داسې ستونزې چې هره ورځ او هر ساعت خلک ورسره لاسګرېوان دي، په ویدیو کې عبدالله مقرئ سوځنده لنډۍ وایي. دا ویدیو اوه‌دقیقې او پنځه‌ثانیې ده او ما پاسنۍ لنډۍ وره راخوندي کړې دي.

https://www.facebook.com/reel/1594591984866361

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ